


اباديِ اوونیزه
هفته نامه آبادی


ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او ټـــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ګڼـــه: ۲۸ | مسلسل نمبر: ۱۱۸

پنجشنبه، د ربیع الاخر ۲۳مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د یوشـــمېر روسي شرکتونـــو له مسوولینو سره وکتل



۲ صفحه

## د کابل – غزني دویم لین سړک د جوړېدو چارو پرمختګ کړی



۲مه صفحه

## ضرورت به کـــنترول کیفیت و معیاری سازی تولیدات تجارتی



۴مه صفحه

## سرلیکنه



د ریاســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پـــه مشرۍ د اړوندو وزارتونو او ادارو له مسوولینو سره د هوایي کارګو له لارې بهرنیو هېوادونو ته د افغانستان د وچو او تازه میوو د صادراتو په اړه غونډه ترسره شوه. په غونډه کې له ګتې پرته په تمام شـــوي قیمت بهرنیو هېوادونو تـــه د وچو او تازه میوو صادراتو پیل، د یادو میوو د صادراتو لپاره د چارتر الوتکو د پیدا کولو په اړه له هوایي کارګو شرکتونو سره د خبرو، د دوو کارګو الوتکو پېرلو او له سوداګرو سره د هوایي کارګو شرکت د رامنځته کولو د غوښتنې په اړه بحث شـــو. دا یو ثرګنـــد حقیقت دی چـــې د ټولنو اقتصـــادي پراختیا او پرمختـــګ د هېوادونو ترمنځ د اړیکو په ټینګښت پورې اړه لري او د اړیکو د ټینګښت یوازېنۍ لار ســـوداګري ده، ځکه چې ســـوداګري د هېوادونو د نړدېوالي اســـاسي عـــنصر او د هغوی له بهـــرني سیاســـت سره نه شـــلیدونکې اړیکـــه لري، همدارنګه د هېوادونو د اقتصادي ودې په چټکتیا کې تجارت د یوې مهمې وســـیلې په توګه عمل کوي. د سوداګرۍ د پراختیا او پرمختګ له پاره ځمکنۍ لارې او ســـمندري لارې کارول کیـــږي، خو تر څنګ یې د صادراتـــو او ســـوداګرۍ د پراختیـــا له پـــاره هوایي دهلېزونه هم ډېر مهـــم دي او د هوایي دهلېزونو په جوړېدو سره به صادراتي توکي پروخت انتقال او د دې ترڅنګ به د ځینو محصولاتـــو لکه تازه میوې او نورو طبي بوټو له منځـــه تلو مخه هم ونیول شي. اسلامي امارت همدې ټکي ته په پاملرنې سره هڅه کړې ده چې هوایي دهلېزونه رامنځته کړي، ترڅو وکولای شي خپل صادرېدونکي توکي د سیمې او نړۍ تر هېوادونو پورې ورسوي. افغانســـتان یو له هغو هېوادونو څخه دی چـــې په وچه کې ایســـار  او ډېر صـــادرات یې د ګاونډیـــو هېوادونو له لارې ترسره کېږي چې وخت په وخت له ستونزو سره مخ او سوداګرو ته زیان رسیږي. همـــدا لامل دی چې اسلامي امـــارت غواړي د خپلو محصولاتـــو یوه برخـــه د هوا له لارې صـــادر کړي. هوایي دهلیزونه د نړیوالې ســـوداګرۍ لپاره یو کلیدي اړخ ګڼل کیـــږي. دا دهلیزونه نه یوازې د صادراتو او وارداتـــو بهیر ګړندی کوي، بلکې د ځمکنیو بندرونو او جیوپولیتیکي ســـتونزو په مقابل کې د اقتصادي ودې لپاره بدیل لاره برابروي. اسلامي امارت د هوا له لارې د صادراتو ترسره کېدو له پاره خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړې دي او دا دي اوس غواړي د اریانا افغان هوایي شرکت په مرســـته خپل محصولات بهرنیو هېوادونو ته صادر کړي. د دې ترڅنګ د کارګو الوتکو چارتر کولو او د کارګو الوتکو پیرلو له پاره اقدام کوي. په دې سره به افغانســـتان نه یوازې دا چې خپـــل محصولات د سیمې او نړۍ بازارونو ته ورسوي، بلکې پر مټ به یې خپله ســـوداګري هم د نورو له برمتې خلاصه کړي. د ســـوداګرۍ په پراختیا او پرمختګ سره به د هېواد د کرنې ســـکټور په ګډون بېلا بېل سکټورونه وغوړېږي او په ټوله کې به اقتصادي وده ګړندۍ او افغانســـتان به په دې برخـــه کې د ځان بســـیاینې په لور محکم ګامونه پورته کړي.


ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تـــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه اباديي
هفته‌نامه آبادی

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د یوشمېر روسي شرکتونو له مسوولینو سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د میزان میاشـــتې په ۱٦مه نېټه په مرمرینـــه ماڼۍ کې د اړوندو وزارتونو او ادارو له مسوولینو سره د هوايي کارګو له



لارې بهرنیو هېوادونو ته د افغانستان د وچو او تازه میوو د صادراتو په اړه غونډه ترسره شـــوه. پـــه غونډه کې له بحث وروســـته د اریانا افغان هوايي شرکت مسوولینو ته سپارښـــتنه وشـــوه چې اوســـمهال له ګټې پرته په تمام شـــوي قیمت بهرنیـــو هېوادونو ته د وچـــو او تازه میوو صادرات پیل او همدارنګه د یادو میوو د صادراتو لپاره د چارټـــر الوتکو د پیدا کولو په اړه له هوايي کارګو شرکتونو سره خبرې وکړي.

همداراز د اوږدمهال لپاره د دې ستونزې د اساسي حل په موخـــه د اریانا افغـــان هوايي شرکت مســـوولینو ته دنده وسپارل شوه چې دوه کارګو الوتکې وپېري. د دې الوتکو د پېرودلو لپاره به اسلامي امـــارت بودیجه ورته ځانګړې کړي. د ســـوداګرۍ او پانګونې خونې مســـوولینو ته هم دنده وســـپارل شوه چې له ســـوداګرو سره د هوايي کارګو شرکت د رامنځته کولو په اړه مجلسونه وکړي.

د یادو ادارو له استازو وغوښتل شول چې خپل راپورونه په لنډ وخت کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت له مقام سره شریک کړي.

## د کابل – غزني دویم لین سړک د جوړېدو چارو پرمختګ کړی

د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي معاونیت تخنیکي تیم د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د میزان میاشتې په ۲۰مه نېټه د کابل – غزني دویم لین سړک د جوړېدو چارې له نږدې وڅارلې. د اقتصادي معاونیت تخنیکي تیم د قراردادي شرکتونو له ترسره شـــوو کارونو خوښـــي څرګنده کړه او له هغوی یې وغوښتل چې د ډیزاین مطابق یې پاتې چارې په خپل



وخت بشپړې کړي. د هغوی په خبره، د کابل – غزني په لومړي لین سړک ترافیکي ګڼه ګوڼه ډېره زیاته ده او اړتیا ده چې د دویم لین پاتې چارې یې ژر بشپړې شي.

د ټولګټو وزارت مسوولینو وویل، د کابل – غزني دویم لین ســـړک د جوړېدو چارې په پنځو لاټونو وېشل شوې دي، چې اوســـمهال یې د پلان او ډیزایـــن مطابق د لومړي، دربیم او پنځم لاټونو عملي کار جریان لري. د اقتصادي معاونیـــت تخنیکي تیـــم د ټولګټو وزارت مســـوولینو ته سپارښـــتنه وکړه، څـــو ژر تر ژره د دویـــم او څلورم لاټونو قراردادونه هم نهايي او عملي چارې یې پیل کړي.

د قراردادي شرکتونو مســـوولینو د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیـــت او ټولګټو وزارت له مســـوولینو مننه وکړه، چې غوښـــتنو ته یې په وخت رسېدنه کړې ده او ډاډ یې ورکړ، چې د ډیزاین مطابق یې د سړک کیفیت ته پوره پام کړی دی. هغـــوی زیاته کړه، هڅه کوي چـــې پاتې چارې له ټاکل شوي وخت مخکې بشپړې کړي.

د کابل – غزني دویم لین ســـړک ۱۱۱ کیلومتره اوږدوالی لري چې اوســـمهال یې د لومړي لاټ چارې ۴۲ سلنه، د دربیم لاټ چارې یې ۲۲ سلنه او د پنځم لاټ چارې یې



ABAADI ONLINE WEEKLY

ابادي

د اقتصــادي او ټــولنيزو مسايلـــو په برخــه کــې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

بیا ٦١ سلنه بشپړې شوې دي. د دغه سړک په اوږدو کې ۹ لوی پلونه او ۵۹۰ پلچکونه شامل دي.

د یادونــې وړ ده چې د کابل - غزني دویم لین ســړک د جوړېدو چارې د تېر ۱۴۰۳ لمریز کال د سنبلې میاشتې په

۲۰مه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري پرانیستل شوې وې.

# اخبـــار اقتصـــادی هفـــته

## د تورغونډۍ او خواف-هرات د پټلۍ له لارې د توکو لېږد زیات شوی

د تولګټو وزارت مسوولین وایي، چې د ۱۴۰۴ لمریز کال د لومړیو شپږو میاشــتو په ترڅ کې ټول ټال ۴۴۶ زره ۴۳۹ متریک ټنه توکي د تورغونډۍ او خواف-هرات د پټلۍ له لارې لېږدول شوي دي. تولګټو وزارت ویلي، له دې جملې څخه ۲۳۲ زره ۸ ټنه توکي د تورغونډۍ له لارې او ۲۱۴ زره ۴۳۱ ټنه د خواف-هرات له لارې لېږدول شوي، چــې په کې نفتي، غیرنفتي او بېلابېل ســوداګریز توکي شامل دي. نوموړی زیاتوي، په همدې موده کې نږدې ۱۵ زره ۸۳۸ ټنــه تجارتي توکي له دغــو دوو لارو بهرته صادر شــوي، چې ډېره برخه یې نوشابه، د انار جوس، د هندوانو تخم، کچالو او وریجې دي. هغه وایي، د پټلۍ له لارې د توکــو د لېږد او صادراتو زیاتوالی د نویو کاري فرصتونو، ملي عوایــدو د لوړېدو او اقتصادي ثبات لامل شوی دی. یاد وزارت ټینګار کوي هڅې روانې دي څو د سوداګرو لپاره لا ډېرې اسانتیاوې برابرې او د پټلۍ د لېږد بهیر نور هم پیاوړی شي.

## د هند له امرېتسره کابل ته مستقیمې الوتنې پیلېږي

مشــهور هندي سوداګر او د دغه هېواد په پارلمان کې د پنجاب استازي وېکرم جیت سېنګ د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي سره په ګډه خبري ناسته کې ویلي چې د افغانســتان او هند ترمنځ به د وچې مېوې، تازه مېوې او نورو توکو د انتقال او له هنده افغانســتان ته د درملو د را استولو لپاره له امرېتسره کابل ته مستقیمې الوتنې پیــل شي. هغه زیاته کړې، چــې دا پرېکړه د ځمکنۍ ترانســپورټ د ســتونزو د حل او د پاکستان له لوري د وخت ناوخته خنډونو مخنیوي لپاره شوې ده.

## قزاقســـتان کې د افغان او قزاق سوداګرو درېیم ګډ نندارتون جوړېږي

د صنعت او ســوداګرۍ وزارت ویلي چې د لړم له ۳مې تر ۸مې نېټې به د افغانستان او قزاقستان درېیم ګډ نندارتون د قزاقســتان په چمکنت ښــار کې جوړ شي. دغه وزارت ویلي، د نندارتون موخه د افغان محصولاتو او تولیداتو بازارموندنه او اقتصادي اړیکو پراختیا ده او په همدې تړاو د صنعت او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي له قزاقي لوري سره د همغږۍ ناسته کړې ده. اقتصادي شنونکي دا ډول نندارتونونه د افغان محصولاتو لپاره مهم بولي او له حکومته د لا زیاتو اسانتیاوو غوښتنه کوي.

## مسوولینو او د ترکمنستان لوړپوړي پلاوي له تورغونډۍ بندر څخه لیدنه وکړه

د تولګټو وزارت د اوســپنې پټلۍ مرستیال مولوي محمد اســحاق صاحبزاده او د ترکمنســتان د ریل پټلۍ وزیر مامِــت اکمامدوف او مــل پلاوي د هــرات ولایت د تورغونډۍ بندر له پراختیایي چارو او د اوســپنې پټلۍ له پرمختګونو لیدنه وکړه. د تولګټو وزارت وایي چې د دې سفر موخه د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د ترانزیټي او اقتصادي همکاریو پیاوړتیا او د تورغونډۍ بندر د پراختیایــي چارو د عملي پرمختګونو څارنه او ارزونه ده. مولوي محمد اسحاق صاحبزاده ویلي، د تورغونډۍ بندر د افغانســتان لپاره یو مهم اقتصــادي دهلېز دی چې د منځنۍ اسیا هېوادونه د جنوبي او سوېلي اسیا له بازارونو سره نښــلوي. نوموړي زیاته کړې چې تولګټو وزارت دغه بنــدر د زېربناوو پراخولــو، د تخلیې او بارګیرۍ د ظرفیت لوړولو، د سوداګریزو توکو د حجم، د لېږد زیاتولو او د اوســپنې پټلۍ د نړیوالو معیارونو سره سم د پراختیا هڅــې کوي. د ترکمنســـتان د ریل پټلۍ وزیر څرګنــده کړې، چې هېواد یې د افغانســـتان له لارې د سیمه‌ییزو اتصالي پروژو ملاتړ ته ژمن دی. د یادونې وړ ده، چــې د تورغونډۍ بندر د پراختیایــي چارو پروژه د ترکمنستان سره قرارداد شــوې ده، چې له مخې به یې یــاد هېواد د څه بانــدې پنځو میلیونــو امریکایي ډالرو پورې پانګونه کوي او موخه یې دا ده، چې د افغانستان، ســیمې او نړۍ ترمنځ سوداګرۍ لازیاته وده وکړي او د هېواد د اقتصادي پیاوړتیا لپاره نوې دروازې پرانیزي.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه آبادي
هفته‌نامه آبادی

# ضرورت به کنترول کیفیت و معیاری سازی تولیدات تجارتی



نویسنده: نجیب الله مایار

## مقدمه

صنعت به فعالیتی گفته می‌شود که موجب تولید اجناس و یا عرضه‌ی خدمات می‌شود. صنایع شامل مجموعه‌ای از سازمان‌ها و شرکت‌هایی است که هر کدام نیازهای خاصی بازار را تأمین می‌کنند. فابریکه های زیادی در هر کشور برای برآورده ساختن نیازمندی های بازار و مستهلکین فعالیت میکنند و در زمینه های مختلف اجناس مورد نیاز مردم را تولید میکنند، اما مشتریان یا مستفید شوندگان معمولا تولیدات فابریکه را خریداری نموده و استفاده می‌کنند که دارای کیفیت خوب و معیاری باشد. رقابت دربین فابریکه های صنعتی نیز بر اساس همین معیارها صورت میگیرد و بیشتر فابریکه‌ها توجه مشتریان و یا بازار را به خود جلب میکند که با معیار های تعیین شده برابر و با کیفیت خوبتر تولیدات داشته باشند. حکومت ها و سکتور خصوصی همواره تلاش دارند، تا در تمام ساحات صنعت تولیدی به کیفیت توجه جدی داشته باشند. در کشور ما هم از چندین سال بدینسو تلاش‌ها در این زمینه آغاز شده، اما در سال‌های اخیر برای نظارت از کیفیت و معیار اجناس در کشور یک نهاد مستقل به نام «معیار و کیفیت» ایجاد شد. اگر هر فابریکه تولیدی به کیفیت و معیار تولیدات خود توجه کند، نه تنها مشتریان بیشتری در داخل به خود جلب میکنند و سطح فروش آن افزایش می یابد، بلکه در صورت لزوم می تواند تولیدات خود را به خارج از کشور نیز صادر نمایند. در این مقاله نگاهی گذرا به ارزش کیفیت و معیاری نمودن تولیدات تجارتی می پردازیم:

## ضرورت کنترول کیفیت و معیاری نمودن تولیدات در کشور

کنترول کیفیت و معیاری نمودن تولیدات صنعتی، به مجموعه‌ای از اقدامات منظم و سیستماتیک گفته می‌شود که در هر مرحله ازجریان تولید و ارائه خدمات انجام می شود، تا اطمینان حاصل گردد که محصول تولید شده مطابق با معیار های مشخص و خواست مشتریان است یا خیر. در کنار این موارد مهم، هدف از کنترول کیفیت، کاهش اشتباهات، جلوگیری از نواقص در محصول و افزایش رضایت استفاده کننده‌گان نیز می‌باشد. این موضوع را میتوانیم در دو بحث جدا گانه بررسی کنیم. کیفیت و معیار، یکی از ابعاد اساسی در تولید اجناس تجارتی و صنعتی است که تأثیر زیاد بر رضایت مشتریان، افزایش فروش تولیدات و بهبود رقابت با شرکت های تولیدی دارد. تمامی مواد مورد نیاز بشر در سلامتی انسان ها نقش مهم دارد؛ اما مواد غذایی، سوختی و ادویه ضروریات عمده جامعه بشری بوده و تهیه آن یک ضرورت مهم است. مهیا نمودن مواد غذایی، سوختی و ادویه جات با کیفیت برای جامعه در نخست مسوولیت بزرگ حکومت ها است. امارت اسلامی با توجه به این نیاز در این عرصه گام های سریع برداشته است. در این راستا جهت معلومات کیفیت مواد، لابراتوار ها را در شهر ها و بنادر مهم کشور فعال نموده و در جاهایی که به آن ضرورت احساس می شود، برای بازسازی آن پلان ها طرح گردیده و سعی بر آن است تا هر چه عاجلتر تطبیق و جلو واردات مواد بی کیفیت را بگیرد. بناً واضح است که کنترول کیفیت مواد و معیاری نمودن آن یک ضرورت جدی در کشور است. همچنان معیاری کردن بخش مهمی از توسعه اقتصادی، توانایی و ظرفیت تجارت را تشکیل داده و در حفظ محیط زیست و جامعه نقش ارزنده دارد. توسعه تجارت با کشور های منطقه و جهان مبتنی بر کنترول کیفیت و معیاری سازی است که نه تنها مشکلات تخنیکی تجارت را از بین می برد، بلکه به خاطر محصولات، دسترسی به بازار را نیز آسان می‌سازد. شرایط اقتصادی ضعیف مردم زمینهٔ آن را مساعد می سازد تا در بازار مواد کم کیفیت عرضه گردد که می تواند به صحت مردم و محیط زیست آسیب برساند. بنابر این لازم است که برای رشد و توسعه اقتصادی و تجارت کشور، کیفیت محصولات معیاری شود تا از یک سو برای مردم مشکلات صحی ایجاد نشود و از جانب دیگر محیط زیست آلوده نگردد و هم محصولاتی که به صورت معیاری به دست می‌آید به بازارهای بین المللی راه پیدا می کند. با در نظر داشت نکات فوق امارت اسلامی در این زمینه گام برداشته و تلاش کرده تا کیفیت کالاهای وارداتی را به طور دقیق کنترول نماید و تنها مواد مورد نیازی که کیفیت خوب داشته باشد وارد نماید. یکی از نهادهای اساسی در کنترول کیفیت و معیار، اداره معیار و کیفیت است.

## اداره معیار و کیفیت

با درنظر داشت ارزش و نقش ادارهٔ معیار و کیفیت در رشد و انکشاف اقتصادی، تقویه سکتور خصوصی، حمایت از مستهلکین و حفاظت محیط زیست از طریق تدوین، تصویب، تطبیق و نظارت بر تطبیق معیار های این اداره در چوکات تشکیلات اساسی حکومت گنجانیده شد. اهداف این اداره انکشاف، تقویه و ایجاد زیربنای ملی کیفیت، بهبود

کیفیت اموال تجارتی (وارداتی وصادراتی)محصولات تولیدی وپروسه های خدماتی، تثبیت نورم های مصرفی جهت بهره برداری موثر ازمنابع ملی و اقتصادی، تامین صحت ومصئونیت مستهلکین وحفاظت محیط زیست، تشویق سکتور خصوصی جهت سهم گیری در پروسه های معیاری سازی وارزیابی مطابقت وفراهم آوری زمینۀ فعالیت آن ها میباشد. براساس معلومات اداره معیار و کیفیت، این اداره توانسته عضویت اصلی سازمان بین المللی ستندرد (ISO)، IEC ، عضویت هیات مدیره سازمان کشورهای اسلامی (SMIIC) و وسایر سازمان های بین المللی و منطقوی را کسب نماید. اداره معیار و کیفیت اکنون در یازده سکتور برای تدوین معیار های ملی فعالیت می نماید. اداره معیار و کیفیت میگوید، در صورت دسترسی به امکانات مالی، تخنیکی و منابع بشری سکتورهای جدید و سایر بخش های مورد نیاز نیز فعال خواهد گردید. این سازمان ۹۸ استندرد را در زمینه های مدیریت کیفیت مواد غذایی و محصولات زراعتی، ادویه و لوازم آرایشی، مواد ساختمانی و نفتی، نساجی و چرم، حفاظت از محیط زیست، مواد کیمیاوی و پلاستیکی و مخابرات را از طریق کمیته تخنیکی مربوطه خویش نهایی کرده اند. کنترول کیفیت مواد مسئولیت اداره معیار و کیفیت است. این اداره در بخش های محصولات نفتی، ادویه جات، لوازم آرایشی، مواد ساختمانی، غذایی، مترولوژی، محیط زیست، تکنالوژی الکترونیکی، مخابرات، منسوجات و چرم، سیستم مدیریت کیفیت مواد کیمیاوی و پلاستیک و در سکتور کود های ملی ساخت و ساز فعالیت می کند. همچنان ترتیب و تهیه قوانین، لوایح و پالیسی ها، به همین شکل ایجاد لابراتوار ها و آغاز کار لابراتوار های ایجاد شده از جمله وظایفی است که اداره معیار و کیفیت انجام میدهد. این اداره در چهارچوب وظایف و صلاحیت های خود تا اندازه‌ای زیادی فعالیت های خود را به وجه احسن انجام داده و در امور مربوطه شان پیشرفت ها دیده می شود.

## کنترول کیفیت و معیاری نمودن محصولات زراعتی و مالداری

بخش زراعت سهم بیشتر را در صادرات و جمع آوری عواید در افغانستان دارد. ارقام نشان می دهد که مهم ترین کالاهای صادراتی افغانستان را تا اکنون محصولات زراعتی تشکیل می‌دهد. میوه جات تازه، خشک و قالین از جمله اقلام مهم صادراتی افغانستان محسوب می شوند، این اجناس در سال های گذشته از مارکیت خوب در کشور های خارج برخوردار بود. طبق گزارش ها در سال ۱۳۸۱، سهم زراعت در صادرات ۸۳۹.۳ میلیون دالر بوده، سهم صنعت فقط ۲۹.۸ میلیون دالر و سهم بخش خدمات صفر بوده است. با در نظر داشت ارقام فوق، می توان دریافت که نقش بخش زراعت با تمام مشکلات، در آوردن اسعار خارجی به کشور ،نقش مهم دارد. گزارش بانک جهانی میگوید، که ۹۰ درصد صنایع تولیدی نیز وابسته به محصولات زراعتی هستند. با توجه به این مسئله اگر تولیدات زراعتی افزایش و زمین های زراعتی توسعه یابد، میتواند هر سال ۱,۲ فیصد رشد اقتصادی و ۱,۲ میلیون فرصت‌های کاری جدید را در یک دهه مهیا نماید. در نتیجه میتوان گفت که افغانستان از ظرفیت خوبی برای تولید محصولات زراعتی و مالداری برخوردار است، اما مشکل این است که محصولات زراعتی و مالداری کشور ما، طبق معیارهای مورد نیاز بازار بسته بندی نمی‌گردد. اغلب محصولات زراعتی ما بخصوص میوه جات به کشور های همسایه انتقال می یابد و بعد از بسته بندی در آنجا به بازارهای بین المللی عرضه می‌گردد. گرچه شماری از شرکت های بسته بندی و پروسس محصولات زراعتی در داخل کشور فعالیت دارند اما گفته می شود این بسته بندی مطابق به معیار های جهانی صورت نمی گیرد. در ادارۀ قبلی هرچند به نام کمک‌ها پول‌های زیادی به کشور سرازیر گردید، اما مانند دیگر عرصه‌ها کار اساسی در بخش پروسس و بسته‌بندی معیاری محصولات زراعتی و مالداری صورت نگرفت و هنوز هم چنین شرکتی وجود ندارد که محصولات زراعتی و مالداری افغانستان را طبق معیارهای بازار کنونی پروسس و بسته بندی کند. به همین دلیل است که بسیاری از میوه‌ها و دیگر تولیدات زراعتی ما در کشورهای خارجی و حتی در بازارهای منطقه به فروش نمی‌رسد. در این مدت میوه تازه و قالین افغانستان بنابر محدودیت های ترانزیتی در کشور پاکستان پروسس شده و بنام آن کشور به خارج صادر می گردید. بر اساس معلومات ادارۀ انکشاف صادرات میوه و سبزیجات آن وقت سالانه بین ۱۱۲ تا ۱۱۵ هزار تُن میوه، سبزیجات، میوه خشک، کشمش و نباتات طبی به خارج از افغانستان صادر می گردید. اما به گفته تجار افغان، اکنون به دلیل نبود امکانات بسته بندی و پروسس این اقلام را کمتر به خارج صادر می کنند. از آنجا که کیفیت کالا ارتباط مستقیم با رضایت مشتری دارد، کنترول دقیق کیفیت می تواند به ارتقاء رضایت مشتریان و ایجاد وفاداری در آنها کمک کند. با وجود مزایای کنترول کیفیت، در پیاده سازی آن چالش‌هایی نیز وجود دارد که باید به آن توجه کرد. برخی روندهای کنترول کیفیت، به ویژه در مراحل آزمایش ، ممکن است مصارف زیادی را به همراه داشته باشد. برای استفاده مؤثر از وسایل و تخکنیک کنترول کیفیت، نیازی به آموزش دوامدار کارمندان نهادهای تولیدی وجود دارد که می‌تواند زمان‌بر و پرهزینه باشد.

## نتیجه گیری

کنترول کیفیت و معیارهای مربوط با آن از اجزای ضروری در هر جریان تولیدی به شمار می‌آیند. با استفاده از روش‌ها و وسایل مناسب کنترول کیفیت، می توان کیفیت کالاها تولیدی را بهبود بخشید، رضایت مشتریان را جلب کرد و در نهایت موفقیت در بازارهای رقابتی را بدست آورد. با این حال، در پیاده‌سازی کنترول کیفیت باید چالش‌ها و مصارف آن نیز در نظر گرفته شوند و همواره نیاز است تا برای بدست آوردن این اصل مهم از وسایل و تکنالوژی عصری استفاده صورت گیرد. بخش مهم توسعه اقتصادی و ظرفیت تجارت را معیار تشکیل میدهد و در مصؤن نگه داشتن مشتریان، محیط و جامعه نقش بارزی دارد. توسعه تجارت میان کشور های منطقه و جهان بر اساس کنترول کیفیت و معیاری کردن استوار است، زیرا این امور از یک طرف تجارت را گسترش می دهد و مشکلات موجوده تخنیکی را از بین می برد و از جانب دیگر دسترسی به بازار مواد را آسان می سازد. اداره معیار و کیفیت امارت اسلامی افغانستان تلاش می کند

کـه از این طریق کیفیت مــواد مورد ضرورت مردم را به شکل درست نظارت نماید و موادی را به بازار اجازه ندهد که کیفت آن پایین و خراب باشــد. در این بخش خاصتاً کنترول مواد وارداتی می باشــد که از طرف اداره معیار و کیفیت به طــور جدی کنترول می شــود. اداره معیار و کیفیــت در چارچــوب وظایــف و مســئولیت های خود فعالیــت های زیــادی انجــام داده و در حصه وظایف محوله خویش پیشرفت های چشــمگیری داشته است. اگــر به همین منوال امــور این اداره ادامــه یابد، بعید نیســت که محصولات افغانی جایگاه ویــژه‌ای در بازار هــای بین المللی پیدا کند و کشــور ما از واردات اقلام و مواد کم کیفیت و بــی کیفیت نجات یابد. با این روند از یک طرف، تجارت توســعه خواهد یافت و از جانب دیگر در صادرات افزایش به عمل خواهد آمد. تلاش‌ها برای کنترول کیفیت کالاهــای وارداتی صورت گرفته و نتیجه ای نیز داشــته اســت، اما هنوز هم جــای نهادها برای پروســس و بســته‌بندی محصولات زراعتــی و مالداری تولید شده در کشور خالی است. امارت اسلامی افغانستان باید ، ســکتور خصوصی را به سرمایه گذاری در این عرصه تشویق نموده تا محصولات زراعتی کشور مطابــق به معیارهای بازار بین المللی پروســس و بســته بندی گردد. با این کار از یک ســو محصولات زراعتی و مالداری کشــور به قیمت خوبی در بازارهای بین‌المللی به فروش می‌رسد و عاید دهاقین و مالداران کشور افزایش می یابد و از سوی دیگر زمینهٔ کار برای بسیاری از مردم فراهم خواهد شد.



## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۶٦,٥٠ ؋ | ٦٦,٥٥ ؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۲۷ ؋ | ۲۲۷ ؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۰,٦١ ؋ | ۰,٦۲ ؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۷,٥٠ ؋ | ۷۷,٥٦ ؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸٥ ؋ | ۰,۸٥ ؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۷٥۷ ؋ | ۷٥۷ ؋ |
| ۱ | انگليسي پونډ | ۸۹,۲۱ ؋ | ۸۹,۲۸ ؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۷,۷۳ ؋ | ۱۷,۷٤ ؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,۱۱ ؋ | ۱۸,۱۲ ؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۳۳ ؋ | ۹,۳٤ ؋ |

